# د پښتو اشاره

د یوې ژبې پښویه (ګرامر) د هغې ژبې د بنسټ ټینګار او اصالت مور ته راښئي، ګرامر د ژبې د عامو قاعدو او د صحیح تکلم د لارو چارو جامع نوم دئ، چي په پښتو ئي (پښویه) او پـه اوسنی فارسي کې (دستور) بولي او په عربي کې دوې برخې (صرف، نحو) درلـوده چي لومړی څانګه ئي د مفردو څېړنه کوي او دوهمه څانګه ئي د کلماتو نښلونه (ترکیب) راښئي، مګر د پښتو پښویه (ګرامر = دستور) پر دواړو برخو احتواء کوي بلکه رغیوهنه، د کلماتو جوړېدنه او د خبرو ترکیب او قواعد ئي ټوله اجزاء ګرزېدلای سي. چي د ژب پوهني (فیلالوژی) یو مهم اړخ دئ.

ځیني خلک د ژبې د پښوئي سادګي او لنډوالی خوښوي، او هغه ژبه چي مفصل ګرامر لري، ګرانه ګني، مګر دا نظر لږ څه سطحي او تجارتي دئ، او د یوې ژبې د ښېګڼې معیار نه بلل کیږي. اساساً د یوې ژبې ښېګڼه د هغې وسعت او متانت او د هر انساني احتیاج لپاره تعبیر لرل دي، او هغه استعداد دي چي یوه ژبه ئي د خپلو ویونکو سره د ژوندانه د چارو د آسانولو لپاره لري.

ژبه هم د انساني ژوندون یوه اجتماعي حادثه ده، او د تولني له تاریخي ارتقاء او اجتماعي روحیاتو سره ټینګه اړه لري، د کلماتو د پیدا کېدو عوامل د تسمیې وجوه، او د ژبې د رغو پېدایښت د ټولني د نشو و ارتقاء د سلسلې سره تړلي دي. اجتماعي محیط او



جغرافي چاپېر، او تاریخي تحولات او پیښي د ژبې پر پښویه هم اغیزې کوي او که څوک وغواړي چي د یوې دلي، ټولني سایکالوجي وڅیړي، نو د ژبې له پلوه ډېر غښت مواد پیدا کولای سي، او د یوې انساني ټولني اجتماعي کره وړه او قومي کردار او دودونه او افکار او عقاید د ژبې په کلماتو او الفاظو کي خپل غیر مرئي اما عمیق اثرونه اچوي.

مثلاً د پښتو په کلیوالي او کوچي ژوند کي د مېلمه پالنه یوه خورا ټینګه او پخوانۍ عنعنه ده او دا ملي رشه هم د محیطي او جغرافي او اجتماعي عواملو څخه پیدا سوې ده. یوه پښتون به ماښام تر هغه وخته ډوډۍ نه خوړه څو به دکوم مېلمه د راتلو احتمال وُ، پښتون به منتظر ناست وُ چي مبادا کوم مېلمه راسي، او چي مېلمه به وارد سو، نو زر به ئې خواړه ورته راوړه، او پخپله به هم یو ځای ورسره ناست وُ، چي ډوډۍ په ګډه وخوري.

هغه ستوری چي د ماښام پر وخت به راخوت، او د مېلمه د راتلو وخت به ئي اعلان کاوه، پښتنو د (مېلمه سترګه) وباله، او دا تسمیه د دوی په اجتماعي چاپېر او ملي خلق او قومي مزاج اړه لري، او فقط له دغي یوې کلمې څخه د اقوامود روحیاتو څېړونکي ته ډېر څه په لاس ورتلای سي. د پښتو په ګرامر کي ځیني نکتې په نظر راځي چي د ژبې وسعت او د پښتنو پر اجتماعي محیط او احتیاجاتو انطباق ښه ځني ښکاري او یو له دغو خصایصو څخه د پښتو ګرامر اشاري کلمات دي چي په نهایت وسعت او خورا دقت د دغه ملت پر اجتماعي مزاج دلالت کوي.

په اصل کي (اشاره) د ژبې د ویونکو لپاره د استعمال په وخت کي یو راز تعین او تشخیص افاده کوي، او پښتانه هم ډېر په تشخیص پابند دي، او هر پښتون ځان ته خاص ځانوالي او غرور او تعیین لري.

د پښتنو په نظر کې د سړي د مقام تعين او ټاکنه او هر سړي پر خپل ځای درول او کښېنول ډېر اهميت لري، د دوی په ملي خلق او مزاج کې دا او دغه او هغه او هوغه ډېر متفاوت دي، او دلته او هلته ډېر فرق لري. په پارسي کې فقط دوې اشارې دي : (اين ـ آن) او د اشخاصو د مقام او تشخيص ټاکنه هم په دغو دوو اشارو سره کيږي. مگر پښتو په دې برخه کې دوني تفصيل لري چې نرې نرې جزويات د مکان، مقدار، کم، کيف له رويه هم په ټاکل کيږي، ا ودا کلمات هم لکه فارسي، مرکب او سره نښلول سوي نه دي، بلکه مفرد او اساساً موضوع او اصيل دي.

د پښتنو په فولکلوري عنعناتو کې يوه قصه ده چې د کاکړ نيکه يو زوی فقط (دا ـ هغه) په اشاره له پلاره خوابدی سو. وايي چې کاکړ څو زامن درلوده، يو مېلمه راغی او پلار خپل زامن په پېژندل، وې ويل :

دا مې زوی دئ، هغه مې هم زوی دئ، دا خبره د دوهم زوی تشخيص او ځانوالي ته چې په (هغه) مشاراليه سوی وُ، گرانه ولوېده، او له پلاره سره ئې رابطه وشلوله.

اساساً مجرد اشارات په پښتو کې د قرب او بعد په لحاظ متعدد دي لکه :

۱. دا = ها (ډېر نژدې)
۲. دغه = (لږ څه نژدې)
۳. هغه (لږ ليرې)
۴. هاغه (ليرې)
۵. هوغه (ډېر ليرې)

دا اشاري مراتب په طرف، مکان، عدد، مقدار کې په ډېر دقت او د مشاراليه د تشخيص سره سم فرق کوي، او په يوه کلمه کې کم، کيف، طرف، ظرف، تشبيه سره بېلېږي او د مشاراليه اُندازه او مرتبه



او ځای او طرف ښه ښکاري. د پښتو دا ژبنی خاصيت چې د هر راز اشارې لپاره بېل بېل موضوع او مفرد کلمات لري هم د ژب پوهانو د غور وړ دئ، او هم د جامعه شناسانو لپاره د تدقيق او څېړنې موضوع کېدای سي. او د څرگندوني لپاره ئې دا جدول وگورئ :

**اشاره** :-

| اقسام | ۱ ـ ډېر نژدې | ۲ ـ لږ څه نژدې | ۳ـ لږ ليري | ۴ ـ ليري | ۵ ـ ډېر ليري |
|---|---|---|---|---|---|
| مجرد (اشاري، فاعلي، مفعولي اضافي) | دا = ها | دغه | هغه | هاغه | هوغه |
| کمي (مقداري) | دوني (دومره ـ هومره) | دغوني (دغومره) | هغوني (هغومره) | هاغوني (هاغومره) | هوغوني (هوغومره) |
| کيفي (تشبيهي) | داسي | دغسي | هغسي | هاغسي (هسي) | هوغسي |
| طرفي | دوري | دغوري | هغوري | هاغوري | هوري |
| ظرفي | دلته (دالته ـ دلې) | دغلته | هغلته | هاغلته (هلته) | هوغلته |

اوس نو که څوک وغواړي په مجرده اشاره ووايي : هوغه سړی ځي. مخاطب پخپله پوهيږي چې تلونکی سړی ډېر ليري دی، چې د فارسي (آن) دغه معنی نسي اداء کولای. دغسي هم په کمې اشاره کې د فارسي مرکب تعبير اينقدر و آنقدر د (دوني) او (هوغوني) په مقابل کې سته خو دا کلمات هم له فارسي اين و آن او عربي (قدر) څخه مرکبي دي. دغسي هم (چنين و چنان) مرکب

دي، له (چون اين ـ چون آن) څخه. و اين سو، و آن سو، اينجا و آنجا مرکبات، دي، نه د پښتو غونډي مفرد او مفرد او موضوع او تاکلي اشکال چي د متکلم د زړه مقصد په يوه ادا مخاطب فهمولای سي. که موږ وغواړو چي پر دغه اشاري سيستم باندي د پښتو خبرو لپاره په فارسي ترجمې برابري کړو، دلته به نو داسي تش لاس پاته سو :

دوني اوبه راکه ! چي په پارسي وايو : اينقدر آب بده !
دغوني " " " " " " " " " " !
هغوني " " " " " " " " " " !
هاغوني " " " " " " " " " " !
هوغوني " " " " " " " " " " آنقدر اب بده !

د پښتنو د قومي مزاج نهايت دقيقه سنجي هم له دې معياره ښکاري، چي يو وار خو مجرده اشاره پنځه مراتب لري او بيا بيا هره مرتبه خپل کمی او کيفي او طرفي او ظرفي اشکال لري. چي د تعبير کار ډېر اسانوي، او دا ټولي مفردي اشاري (۲۵) ته رسيږي، حال دا چي په فارسي کي فقط (۲) دي.

د ويونکي يا شاعر او اديب د کار د سهولت لپاره د اشارو د استعمال يو څو مثاله راوړم، چي په ادبي سندونو خبره لږ څه ښه روښانه سي. عبدالرحيم خان د هند د مغولي دربار سترو څير (۱) ويلي وه :

نه دام دانم و نی دانه اينـــــــقدر دانم
که پای تابسرش هر چه هست در بند است

دلته کمی او قدري اشاره "اين قدر" چي مرکب لفظ دئ، استعمال سوې ده، بيت خو د شاعر د ادبي اقتدار په سبب د معنی د اداء لپاره ښه نمونه ده، مگر که د شاعر ښه اوزار او د ژبې د دقيق استعداد مواد په لاس کي وي، نو به دغه معني په سهولت او ښکلا او خوږه اداء کړای سي. مثلاً يو پښتون ليکوال غوښته چي دا بيت



ترجمه کړي، د ده په لاس کي د پښتو (دومره) مفرده کلمه د فارسي د مرکبي کلمې "اين قدر" پر ځای وه، نو ئې کار آسان وُ، او د ده په اداء کي بايد ښکلا او خوږا دواړه جمع سوي وای، نو ئې و ويل :

دانه، لومه ليدی نسم دومره پوه يم
سر تر پايه دئ جهان لـــــومه او بند

په دې بيت کي لومړی مسری "دومره" قدري اشارې په استعمال برجسته او خوږه سوه مگر په دوهمه مسری کي آيا مترجم د اصلي شاعر حق اداء کئ که نه؟

دا خبره دي پخپله ښاغلي لوستونکي وسنجوي.

بل مثال : موږ به يوه کارخانه فرض کو، چي پنځه ماشينه پکښي پراته دي او هر ماشين ځانته يو خاص کار کوي، لومړی لرگي پرې کوي، دوهم ئې پاکوي، دريم ئې نقاشي کوي، څلورم ئې رنگوي، او پنځم ئې سره تړي.

د کارخانې انجينر به خپلو شاگردانو ته هدايت کوي : دا لرگی دلته کښېږده ! نو شاگرد پوهيږي چي لومړی ماشين نژدې پروت دئ، او لرگي بايد هغه ته کښېږدي چي پرې کړ سي. بيا نو وايي : دا بل لرگی دغلته کښېږده، چي مقصد به دوهم ماشين وي، او دا لرگی به صيقل کاري سي. په دغه ډول به دغه ظرفي اشاري هر يوه پر خپل ځای کار ورکي، نظم او ترتيب به موجود سي، او کار به آسان سي. (۲)

(۱) دا کلمه ما ارادتاً وځير کښلې ده، ځکه چي زما په خيال په پښتو کي ريښې لري، او په تحليلي نظر بايد دا کلمه پښتو وي، د عربو ژب پوهانو هم ويلي دي چي د (وزير) کلمه اصلاً عربي نه ده، او له عجمي ژبو څخه د خيله ده.

(۲) وږمه مجله، ۱۳۴۰ ل کال، ۶ مه گڼه، ۱ _ ۷ مخونه.